د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

د علمي څېړنو معاونیت

د علمي څېړنو آمریت

# څېړنیزه پالیسي



ترتیب کوونکی: د علمي څېړنو آمریت

کال:........................................................................................................ ۱۴۰۳ هـ ل

# د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د څېړنو پالیسي

## ۱ . سریزه

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون (ANASTU) چې د هیواد په کچه لومړنی او یوازنی تحقیقي پوهنتون دی چې د کرنې او مالدارۍ په برخو کې د لیسانس او ماستري په کچه محصلان روزي، اناستو پوهنتون په خپل تشکیل کې د علمي څېړنو معاونیت لري چې په دریو آمریتونو سره مشتمل دی، د علمي څېړنو آمریت ددې پوهنتون له مهمو او کلیدي آمریتونو څخه ګڼل کیږي چې د څېړنې اړوند چارې تنظیموي. ددې لپاره چې په اناستو پوهنتون کې د څېړنیزو چارو او کړنو حالت ډېر واضح او مثمر وي، د یوې جامع پالیسي جوړل او شتون ته اړتیا لیدل کیږي او په همدې موخه لاندې دا پالیسي ترتیب شوې ده. د اناستو پوهنتون د علمي څېړنو د پیاوړتیا، پراختیا، او موثریت لپاره ژمن دی. دا پالیسي د څېړنو په برخه کې د پوهنتون د استادانو، محصلانو، او څېړنیزو ټیمونو د لارښوونې لپاره د یو میکانیزم په بڼه طرحه شوې ده.

## ۲ . موخې

- د څېړنو لپاره د یوه واضح او جامع چوکاټ رامنځته کول.
- د څېړنو د کیفیت لوړول او د نړیوالو معیارونو سره یې برابروالی.
- د استادانو او محصلانو په منځ کې د څېړنیزې روحیې پیاوړي کول.
- د پوهنتون د دریو بنسټیزو اهدافو (تدریس، څېړنه، ترویج) پیاوړتیا.
- د کرنې په برخو کې د نوو حل لارو او تکنالوژیو رامنځته کول.
- د افغانستان د کرنیزو چارو د پرمختګ لپاره عملي حل لارې وړاندې کول.

## ۳ . څېړنیز چوکاټ او جوړښت

### الف: څېړنیز جوړښت

- **د علمي څېړنو معاونیت:** د څېړنو ټولیزې چارې تنظیموي او نظارت پرې کوي.
- **د علمي څېړنو آمریت :** د څېړنیزو پروپوزلونو ارزونه، درجه بندي او د بودیجې منظورۍ لپاره وړاندیزونه کوي، ددې سربیره د علمي څېړنو معاونیت لخوا په طرحه شوو څېړنیزو مسایلو باندې کار کوي.

**ب: څېړنيز ټيمونه**

- **د استادانو څېړنې:** د پوهنتون د علمي او اکاډميک پرسونل لخوا ترسره کېږي.
- **د محصلانو څېړنې:** د محصلانو لخوا د څېړنيزو پروژو په بڼه ترسره کېږي، چې د استادانو له لارښوونې لاندې وي، يادې څېړنيزې پروژې کيداى شي د ماستري محصلانو د تيزيس، د ليسانس محصلانو د پايليک او يا هم د دوی د زده کړې په موخه د لارښود استادانو لخوا مختلفې طرحه شوې څېړنې وي.
- **مشترکې څېړنې:** د زيدخل ارګانونو سره ګډې څېړنې د يو تفاهم په اساس مخته وړل.

**ج: څېړنيزې پروسې**

1. د څېړنيزو پروپوزلونو چمتو کول.

چې د څانګې له تائيد وروسته د پوهنځی د څېړنې کميټې تائيدي ترلاسه کوي او د پوهنځی د علمي شورا له تائيد څخه وروسته د علمي څېړنو معاونيت/ آمريت ته راځي.

2. د پروپوزل ارزونه د علمي څېړنو معاونيت او آمريت لخوا.

بوديجوي او څېړنيز پروپوزلونه د څېړنې، تأليف او بورډ غونډې ته وړاندې کېږي او له تائيد وروسته د پوهنتون د مالي او اداري چارو معاونيت ته د بوديجې د ورکړې په منظور ليږل کېږي.

3. د بوديجې لپاره د پروپوزلونو وړاندې کول.

د پوهنتون اداري او مالي معاونيت ته ليږل کېږي.

د څېړنو عملي تطبيق.

چې په ساحه او لابراتوار کې به د فارم او لابراتوار په تخنيکي همکارۍ سره د څېړونکو لخوا ترسره کېږي.

**۴ . د څېړنو لومړيتوبونه**

- د نظر پوښتنو په اساس د سيمې د اړتياوو مطابق څېړنې ترسره کول.
- د نباتي علومو، حيواني علومو، کرنيز اقتصاد، او وترنري اړوند په آساسي ستونزو باندې څېړنې ترسره کول.
- د اقليمي بدلونونو سره د تطابق حل لارې.
- د اوبو او خاورې مديريت په برخه کې څېړنې.
- د کرنيزو محصولاتو زياتوالی او کيفيت ښه والی.
- د مالدارۍ محصولاتو د پرمختګ لپاره څېړنې.

**۵. د څېړنو لپاره موجود امکانات**

- **کرنیزه تحقیقاتي ځمکه :** شا او خوا ۵۰۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه او تحقیقاتي فارم
- **مجهز لابراتوارونه :**پرمختللي وسایل او ماشینونه.
- **کرنیزه د فارم پرمختللې ماشینري:** د اګرانومیکي عملیاتو د ترسره کولو پرمختللي ماشینونه او وسایل
- **د مالي ملاتړ سرچینې :** د لوړو زده کړو وزارت لخوا تأمین کیږي.

**۶. د څېړنو لپاره د بودیجې تخصیص**

- څېړنیزه بودیجه به د لوړو زده کړو محترم وزارت لخوا ورکول کیږي.
- د علمي څېړنو معاونیت د همکاره مؤسیساتو او نورو څېړنیزو ادارو څخه هم د بودیجې په ترلاسه کولو کې خپلې دوامداره هڅې کوي.
- هر پروپوزل ته به د اصولو مطابق څېړنیزه بودیجه ورکول کیږي.
- د بودیجې د مصرف ارزونه او څارنه به د علمي څېړنو د معاونیت او آمریت لخوا ترسره کیږي.

**۷. څېړنیزې پایلې او خپرونې**

- د هرې ترسره کیدونکې څېړنې پایلې باید د تیزیس او مقالې په شکل سره مستند کړل شي
- د څېړنو پایلې باید د ملي او نړیوالو ستنډرډونو سره سمې خپرې شي.
- د څېړنیزو مقالو خپرول به د پوهنتون په علمي ژورنالونو او نورو معتبرو خپرونو کې ترسره کیږي.

**۸. نظارت او ارزونه**

- د څېړنو د پرمختګ په اړه رپوټونه به د علمي څېړنو معاونیت ته وړاندې کیږي.
- د څېړنو ارزونه به د کیفیت او موثریت پر بنسټ ترسره کیږي.

**۹. پایله**

دا پالیسي د څېړنو د لوړولو لپاره یو واضح لارښود وړاندې کوي. د پوهنتون ټولې اړوندې څانګې او پرسونل باید د دې پالیسي اصول عملي کړي ترڅو د څېړنو کیفیت او موثریت ته وده ورکړل شي.

په درنښت

د علمي څېړنو آمر
پوهنیار کرامت الله فاضل

د علمي څېړنو مرستیال
دوکتور شریف الله شریفي

د پوهنتون رئیس
الحاج مولوي محمد داؤد اغا الهاشمي